داحمدشاه وردګ ژباړه:


اول جولای ۲۰۱۲

## هغه مرکز چې دایډز وایرس پکی جوړشوی بنه وپیژنو؟

دواشنګټن پوست ورځپانې په۲۰۰۹ کال کې د«فورت دیتریک» آزماینتون په هکله یو ګزارش خپورکړچې پکی ویل شوی و چې دغه آزماینتون دامریکې دپوځ د بیولوژیکی دفاع اصلی مرکز دی.

دفارس دګزارش پر بنسټ د امریکې دپوځ د«فورت دیتریک» پټ آزماینتون، دبیولوژیکی وسلو دجوړولو ځای دی. دغه مرکزچې تر ۲۰۱۵ کال پورې به لاډیر نور پراخه اوسمبال شی، هغه آزماینتون دی چیرته چې دایډز وایروس او نور په ملیاردونو وژونکی وایروسونه او باکتریاوې یې په ځان کې ځای کړی، آن تردې چې خپل ځان هم خوندی نشی ساتلای، تردی پورې چې دوایروسونو او باکتریاوو دساتنې۹زره لوښی چې دخطرناکو پاتوژنودرلودونکی و، په دغه آزماینتون کې غلا شول.

دامریکی دبیولوژیکی وسلو په هکله تراوسه په نړیواله سطحه ډیر مطالب خپاره شوی او په ډیرو هیوادونوکی دغه وسلی دترټولو خطرناکواو وژونکو وسلو په توګه ګڼل کیږی، ولی امریکه دغه وسلی چیری او څرنګه جوړوی؟ آیا د«فورت دیتریک» دپټ آزماینتون نوم مو اوریدلی؟ په دغه آزماینتون کی څه کارونه ترسره کیږی؟ دی ته ورته څو نوردغسی آزماینتونه دامریکی په لاس کی دی؟ آیا دامریکی خلک ددغو آزماینتونونو په هکله په څه خبر دی؟ لاندینی لیکنه زیارباسی دپورته پوښتنو لپاره ځوابونه وړاندی کړی.

### کوچنی ،بیرنی هوایی ډګرچی دبیولوژیکی وسلودجوړولو په بنسټ بدل شو!

پیښنه هغه وخت پیل شوه چی دامریکی دمریلند دایالت د«فریدریک» سیمه په ۱۹۲۹کال دیوه کوچنی هوایی ډګر دجوړېښت شاهده وه، ولی دغه هوایی ډګر تر۱۹۳۹پوری دیوه بیرنی ډګر په توګه کارول کیده اودجګړن«فریدریک اف دیتریک» نوم یی پری ایښی و،کوم یوه چی په لومړی نړیواله جګړه کی (۱۹۱۸-۱۹۱۴) په فرانسه کی دنده ترسره کړی وه. نوموړی دامریکی دپوځ دهغه پوځی ډلګی غړی وچی په لومړی نړیواله جګړه کی لومړی ځل په فرانسه کی پیلی شو اوهلته یی یوه دایمی هده جوړه کړه چی ترډیره وخته امریکایی پوځیان پکی اوسیدل.

دغه هوایی ډګر تر دوهمی نړیوالی جګړی خپل کارته ادامه ورکړه، اوپه دی موده کی دغه هډه دهوایی ځواکونو دزده کړی په مرکز واوښت، نور دغه هډه دپوځیانو یوه ساده لښکر کوټ نه ګڼل کیده.
دغه لښکرکوټ تر ۱۹۴۲ کاله پوره وده وکړه اودهوایی ځواکونو په یوه مهم مرکز بدل شو.
په ۱۹۴۳ کال کی دامریکی دولت ددغه لښکرکوټه شااوخواځمکی رانیولی ترڅو د«فورت دیتریک» لښکرکوټ نورهم پراخه کړی. همدارنګه دفورت دیتریک لښکرکوټ ترڅنګ دامریک دپوځ دبیولوژیکی وسلو په یوه آزمایښتون واوښت چی یو ملیون ډالره خرچه هم پری وشوه.
ددوهمی نړیوالی جګړی ترپایه په ۱۹۴۵کال کی دفورت دیتریک د لښکرکوټ په آزمایښتون کی ډیری بیولوژیکی آزموینی ترسره شوی چی ناپیژانده ناروغی له ځانه سره راوړی.

### دایډز وایروس د«فورت دیتریک» په آزمایښتون کی وزیږد:

له دوهمی نړیوالی جګړی وروسته دفورت دیتریک په لښکرکوټ کی ډیری آزموینی اوڅیړنی وشوی او دامریکی دولت دهغه لپاره په دوامداره توګه بودجه ګوښی کوله. دغه مرکز ورځ تربلی پراخیده او دحیواناتو ترڅنګ په انسانانو باندی هم ډیر آزموینی وشوی.
په فورت دیتریک کی په انسانو چی کومی آزموینی وشوی اوپه دوی ډول ډول وایرسونه او باکتریاوی په داسی حال کی وآزمویل شوی چی دوی په ځان هم نه وخبراوله پیښی یی هیڅ ډول معلومات نه درلودل.
دایډز وایرس دفورت دیتریک دډارونکی مرکز دآزمایښتونو هغه پایله ده چی دمګړی یی ملیونونه انسان ناروغه کړی او ملیونونه نور یی دنیستی کندی ته اچولی، اودسودخوارو جیبونو ته یی په ملیاردونه ډالر اچولی.
په ټوله دغه موده کی دفورت دیتریک آزمایښتون نه یوازی په پوځیانو بلکه دنړی په نورو سیمو لکه ویتنام، افریقا، کوبا، کوریا اواروپا کی په غیر پوځیانو هم خپلی آزموینی او څیړنی ترسره کړی.
دفورت دیتریک دآزمایښتون چاری اوس هم په درب روانی دی اودغه آزمایښتون چی اوس دنیو محافظه کارانو په ولکه کی دی کوم چی دامریکی دسیاست چلونکی دی، د«بیولوژیکی دفاع دمرکز» په نامه نومول شوی چی خپل بشری ضد کړنو ته ادامه ورکړی.
دامریکی دبیولوژیکی وسلو تولید په ۱۹۴۳ کال کی پیل شو اوموخه یی هغه دفاعی جوړښتونو ته رسیدل و چی دنوروهیوادونو بیولوژیکی برغلونه شنډ کړی او دمتقابل برغل لپاره همداسی وسلی وکاروی.
دغه کړنلاره تر ۱۹۶۹ کاله دمریلند دفورت دیتریک په آزمایښتون کی ترسره شوه ترڅو په همدغه کال کی امریکی په ظاهره ددغه ډول وسلو څیړنی اوپراختیا بندی شوی اعلام کړی اودفورت دیتریک موخی په ظاهره بدلی شوی، ولی په دغه وسلو آزموینی او څیړنی هیڅکله هم بندی نشوی ولی دهغه دښکاره توب مخه ونیول شوه اوپه پټو وسلو واوښتی.

### ۳۴ ملیارده ډالره دبیولوژیکی وسلو دپراختیا لپاره پانګونه!

د۲۰۱۱ کال دسپتمبر دیوولسمی پیښی راوروسته دنویو محافظه کارانو دولت«جورج بوش» په یوه وار ۳۴ ملیارده ډالره دناپیژندو بیولوژیکی وسلو دپراختیا لپاره ځانګړی کړل. ددغه پیسو ډیره برخه دفورت دیتریک آزمایښتون ته ورکړل شوه، کوم چی په تاریخی لحاظ دامریکی دپوځ دجناياتو اوتورو کړونو لپاره ترټولو ښه ځای دی اودامریکی دپوځ ترټولو ډیری غیر انسانی او وژونکی تجربی په دی مرکز کی ترسره کیږی. دبیلګی په توګه دنړیوالی علمی

ټولنې ډیرې دلاسوندونو او قراینو ته په کتو په دې باوردې چې دایډز وایروس دیوې وسلې په توګه په همدې مرکزکې دامریکې دپوځ دمولوکولي بیولوژۍ اووایروس پیژندنې د کارپوهانو لخوا جوړه شوې.
په بیولوژیکې وسلو دځیړنو دسره پیل کیدو لپاره دبوش دفرمان وروسته، دامریکې پوځ د عفونې ناروغیو انستیتوت په فورت دیتریک کې چې دهمدې هډې یوه برخه وه، په یوه نوې آزمایښتون چې څو نورې ډلګې هم لرې دبیولوژیکې وسلو ددفاعې مرکز باندې بدل شو.
دامریکې پوځ داسوشتید پریس په ورځپاڼه کې اعلام کړچې دغه پراختیا یوازې ددفاعې چارو لپاره ترسره شوې اویرغلیزې موخې نلرې، په داسې حال کې چې امریکې ته دهیڅ هیواد څخه هیڅ ډول بیولوژیکې ګواښ ندې متوجه او دامریکې دولت اوپه هغو پورې تړل شوې رسنې دامریکې دخلکو دویرولو لپاره دغه پروپاګندې کوې ترڅو پخپلو نویو څیړنو چې ترټولو ویرونکې او وژونکې وسلې په فورت دیتریک کې جوړوې پرده واچوې.
دفورت دیتریک دلابراتوارونو پراختیا دهغو ملیاردو ډالرودلګښت یوه ځانګړې برخه وه چې ۲۰۰۱ کال په اکتوبر کې د«دتورتېپ دباکتریا» دله منځه وړلو لپاره دکنګرې په تصویب ورسید او یوولس مرکزونو اودهغې په ډله کې دفورت دیتریک هډې ته ځانګړې شوه.

**د«بیولوژیکې سپر» جوړښت دامریکې ددفاع په بهانه**

دې یرغلونچې دامریکې په ټولنه کې یې پراخې ډاراچونې له ځان سره درلودې په ۲۰۰۴ کال د«بیولوژیکې دفاع» دقانون په تصویبولو سره پای وموند. شواهد اولاسوندونه ښکاره کوې چې دتورتېپ باکتریا دهیڅ هیواد اویا تروریستې ډلې لخوا ندې خپورشوې بلکه دا دفورت دیتریک آزمایښتون دې چې دنوموړو باکتریاوو اونورو بیولوژیکې وسلو دآزمایښتونو ځای دې چې په نړې کې سارې نلرې.
دغه وسلې چې دلویو چاودنو ، اوراچونو اودبمونو له لویو ږغونو پرته چې دلیرد لپاره یې لویې غول پیکره الوتکې هم نه پکارېږي په ډیره آسانۍ پرته له دې چې کورونو او ودانیزو چاروته زیان ورسوې په ډیره آرامۍ پرته له دې چې لویو کارپوهانو ته اړتیاوې، ترسره کیږې په همدې دلیل دغه وسلې د« دهوښیارو بمونو-بمب های هوشمند» نوم ورکړل شوې.

**۷۰۰ ملیارده بودجه د بیولوژیکې وسلو دجوړولو لپاره**

دیوې خطرناکې باکتریا خپرول په یوه روغتیایی سیستم کې چې په یوه ټولنه کې په کاربوخت وې اودهغوې لپاره ناپیژانده وې، یا دماشومانو ترمنځ دیوه وژونکې اوژرخپریدونکې وایرس خپرول، یا دیوه هیواد داوبو زیرمې په ځوکیلویې ککړ شویو پېښو چې ډیر خطرناک ارګانیزمونه پکې وې اوپه چټکیا خپرېږي اوپه لسګونه نور مثالونه هغه بنسټ جوړوې چې دامریکې دپوځ د«فورت دیتریک» آزمایښتون دهغوې دجوړولو اوخپرولو مسولیت په غاړه لرې.
«دامریکې دپوځ دبیولوژیکې وسلو ددفاع آژانس» په ۲۰۰۹ کال کې دخپلو ودانیو،اوپه وژونکو ارګانیزمونو دڅیړنو دپراختیا لپاره د۷۰۰ ملیارډو ډالرو بودجه ترلاسه کړه.

**د۲۰۱۵کال ترپایه دفورت دیتریک هډه نوره غښتلې او پراخه کیږې.**

دطرح شویو کړنلارو پربنسټ، دامریکی دپوځ دفورت دیتریک په هڅه کی به دعفونی ناروغیو نوی انستیتوت د۲۰۱۴کال دمی په میاشت کی پرانیستل شی او د۲۰۱۵کال ترپایه به بشپړشی. داسی پلان شوی چی په دغه څیړنیز مرکز کی به ۱۰۰۰ پوهان او ۸۰۰ نورکارکونکی چی له ۱۹۶۰ څخه په دی برخه کی کارکوی له دی مرکزسره یوځای او په دندو بوخت شی ترڅو په باکتریاو او وایرسونو خپلی څیړنی بشپړی کړی.

دامریکی دپوځ دپوهانو داعلام پر بنسټ اود هغوی له ډلی څخه «اریک شوماخر» په دی آند دی چی دغه آزمایښتون به په ترټولو نویو اوعصری تکنالوژی سمبال شی ترڅو دخطرناکو اووژنکو ارګانیزمونو(باکتریا-وایروس) لکه دتورتبې باکتری، دطاعون باکتری، او دابولا وایروس دپراختیا مخنیوی وکړای شی.

دامریکی پوځ په دی هکله اعلام کړه چی دفورت دیتریک آزمایښتون لومړی دنده چی ۸۰۰ زره مربع فوټه مساحت لری، دواکسینو جوړول دی. ولی شوماخر وایی:« ددی مرکز پوهان د لودیځ نیل دوایرس، دسارس ناروغی، دچرګانو دانفولانزا او دخوګانو دانفولانزا دوایرسونو پر ضد څیړنی کوی».

دشوماخر دادعا په خلاف ډیر خلګ اوریدل شوی چی دغسی یولوی مرکز چی ملیاردونه ډالر پری لګیږی، دخپل ځان خوندی توب هم نشی تضمینولای اودتوکیو اولوښو په ساتنه کی پاته راغلی، آیا داشونی ده چی نومړی مرکز دهغو باکتریاو اووایرسونو په ساتنه کی عاجزشی چی څیړنی پری کوی؟ آیا دغه مرکز نورو سیمو ته دناروغیوپه خپرولکو کی لاس نلری؟

### ۹زره هغه لوښی چی دبیولوژیکی وسلو لپاره باکتریاوی او وایرسونه ساتی ورک شوی؟

په ۲۰۰۹کال کی دواشنګټن پوست ورځپاڼی دفورت دیتریک هڅی په هکله یوګزارش خپورکړی اوپه هغی کی په ډاګه ویل شوی چی دغه مرکز دامریکی دپوځ دبیولوژیکی دفاع اصلی مرکز دی.

واشنګټن پوست دخپل ګزارش په دوام کی لیکی چی داسی لاسوندونه شته دی چی ۹۰۰۰ هغه ځانګړی لوښی چی وایرسونه اوباکتریاوی پکی ساتل کیږی چی دخطرناکو پاتوژنونو درلودونکی و، له دغه هڅی ورک شوی. په دی ډله کی هغه لوښی چی د ونزویلاآنسفالیتی آس وایرس، دابولا وایرس، دتورتبې وایرس اودبوتولیسم زهر پکی و له دی هڅی تری تم شوی. اوترټولو مهمه خو داده چی پوځ تراوسه ددغی غلا څرک ندی لګولی، اوداسی ښکاره کوی چی دآسونو آنسفالیتی وایروس د انفلووینزا یوکمزوری وایروس دی، ولی همدغه وایروس دمغزی پرسوب(التهاب) سبب ګرځی چی مړینه له ځان سره لری.

دواشنګټن پوست ورځپاڼه ټینګارکوی چی دغه وایروس په بیولوژیکی وسلو کی دکارولو وړتیالری، اودامریکی دپوځ څیړنی دهغی په غلاکی کوم ځای ته ونه رسیدی، ترڅویی پیښه داسی توجیی کړه چی ښایی دلوښو په شمیرنه کی غلطی شوی وی اویا هم له سره دغه لوښیو شتون نه درلود.

### فورت دیتریک دنارغیو دعواملو په راټولو، ساتلو اوپراختیا لپاره لګیا ده.

دامریک دپوځ دټولو پټونو اوپرده اچونو سربیره چی دبیولوژیکی وسلو دیرغلیزو برنامو دپراختیا لپاره یی کوی، په عمل کی ثابته شوی چی دا یوازی دډوکه کولو لپاره پروپاګندی دی اوهمیشه داسی کسان شته چی دامریکی په پوځ او یادهغو په پټو ځانګو کی یی کارکړی، اوددغی ادعا دروغوالی ثابتوی.

دایلینویز دپوهنتون دحقوقو استاد «فرانسس بویل» یودهمدغو کسانو څخه دی چی په فورت دیتریک تورلګوی چی دعادی او تغییر شویو بیولوژیکی عواملو چی ناروغی رامنځ ته کوی د«ژینتیکی مهندیسی» په رڼاکی دهغوی په ساتنه ، پراختیا اوبسته بندیو لګیادی.

بویل ټینګارکوی: دغه کړنی اوهغه ځیرنی چی دنارغیو دجوړونکو وایرسونو اوباکتریاو په هکله په فورت دیتریک کی ترسره کیږی دامریکی دپوځ دیوی بیولوژیکی یرغلیزی کړنی څرګندویی کوی چی دامریکی دولت یی پرمخ بیایی.

ولی دکلیفرنیا دپوهنتون دمایکرو بیولوژی استاد «مارک ولیس» دفورت دیتریک دهډی دکړنو په هکله وایی:« دپوښتنی ځای نشته اوټولو ته څرنګنده ده چی دیرغلیزو بیولوژیکی وسلو دجوړلو لپاره کومی چاری چی باید ترسره شی، دغه آزمایښتون یی ترسره کوی. مونږ دځانګړو موخو لپاره دنارغیوجوړونکو میکروبونودپراختیا په چارو لګیایو. مونږ نویی لاری چاری ځیرو ترڅو داسی وسلی جوړی کړو چی ناروغی خپری کړی او طبعیت دهغو دله منځه وړولو توان ونلری».

**هغه کارپوهان چی دفورت دیتریک ته ورته ځیرنی کوی په شکمنو لارو وژل کیږی.**

دغه ډول خبری په طبعی توګه دامریکی ددولت لپاره دمنلو اوزغملو وړندی اوګورو چی په فورت دیتریک کی دکارپوهانو شکمنی وژنی له ځان سره لری، دهغو له ډلی باید د«بوروس ایونس» هغی شکمنی وژنی ته اشاره وکړو چی په فورت دیتریک کی ترسره شوه او په ظاهره وویل شول چی هغه ځان وژنه کړی. اف بی آی اعلام کړه چی نوموړی د تورتپ دباکتریا خپرونکی و چی دپنځو کسو په وژنه پای ته ورسیده.

دامریکی دچاپیریال ساتنی کارپوه مصری الاصله ډاکتر«ایاد اسد» چی په دغه آزمایښتون کی یی دزهر پیژندونکی په توګه دنده ترسره کوله اود اف بی آی لخوا ترپوښتنو ګویږنو هم لاندی راغلی و، په ډاګه وایی چی دایونس مړینه یوه عادی ځان وژنه نه وه.

داپه داسی حال کی ده چی په تیرو څو کلونو کی نورکارپوهان هم چی دامریکی دبیولوژیکی وسلو سره یی تړاو درلود اویا یی هم په هغو نیوکه کوله په شکمنه توګه وژل شوی. داکتر «بنیتوکو» هغه سلولی ژوند پیژندونکی دی چی دمیامی په پوهنتون کی په عفونی نارغیو اوایډز ځیرنی کولی چی مړی یی دپوهنتون دباندی وموندل شو.

همدارنګه باید د داکتر«ویلی» څخه یادونه وکړو کوم چی دهاروارډ په پوهنتون کی استاد او دانسانی خوندی توب متخصص و، هغه په عفونی نارغیو او خطرناکو وایرسونو لکه دایډز وایرس، ابولا، هرپس او انفلوینزا باندی ځیرنی کولی او مړی یی یوه میاشت وروسته په یوه لیری سیمه کی دلوییزیانا په ایالت کی وموندل شو. ویلی په هغو وایرسونو ځیرنی کولی چی دامریکی دبیولوژیکی وسلو لپاره خورا ډیر ارزښت لری.

په شکمنه توګه دوژل شویو په دغه لست کولای شو نورنومونه لکه: داکتر«دیوید وین ویلیامز»، داکتر«ولادیمیر پاسکنیک»، داکتر «روبرت شوآرتز» داکتر«تانیا هولزمایر» اونورډیرورزیاد کړو دکومو ځیرنی چی دفورت دیتریک ځیرنو ته ورته وی اوپه شکمنه توګه وژل شوی.

دهمکاریو دنه منلو اویا په فورت دیتریک کی دامریکی دپوځ دبیولوژیکی وسلو داصلی ځیری نه بربنډ کیدنه ددی کارپوهانو دوژنو احتمالی علتونه ګڼل کیدای شی.(پای)